# دافغانستان اسلامي جمهوریت

## دعدلیې وزارت

# رسمي جریده

## فوق‌العاده گڼه

## د حقوقي مساعدت د تنظیم مقرره

## مقررهٔ تنظیم مساعدت حقوقی

دخپرېدونېټه:د ۱۳۹۸هــ.ش کال د وږي د میاشتې (۲۴)

پرله پسې نمبر:(۱۳۵۵)

تاریـــخ نشر:(۲۴) سنبله سال۱۳۹۸ هــ.ش

نمبر مسلسل:(۱۳۵۵)

د امتیاز خاوند: د عدلیې وزارت

مسئول چلوونکی: قانونمل محمدرحیم "دقیق"

۰۷۰۰۵۸۷۴۵۷

د دفتر تیلفون: ۰۲۰۲۳۱۴۲۹۸

مهتمم: محمد جان ۰۷۴۷۶۲۷۹۳۰

وبسایت: www.moj.gov.af

قیمت این شماره (به اساس قرارداد): (۱٦,٦۴) افغانی

تیراژ چاپ: (۱۰۰۰) جلد

تعداد صفحات به شمول پشتی: (۵۲) صفحه

مطبعه: بهیــر

آدرس: وزارت عدلیه، ریاست نشرات و ارتباط عامه، ناحیه ششم _ غرب قصر دارالامان

## د حقوقي مساعدت د تنظيم د مقررې د انفاذ په هکله د افغانستان اسلامي جمهوريت د رئيس حکم

گڼه: (۱٦۱۸)

نېټه: ۱۳۹۸/٦/۱٦

**لومړۍ ماده:**

د حقوقي مساعدت د تنظيم مقرره چې د افغانستان اسلامي جمهوريت دکابينې د ۱۳۹۸/۴/۱۸نېټې د (۵) گڼه مصوبې پربنسټ د (۵) فصلونو او (۳۵) مادو په دننه کې تصويب شوې ده، منظوروم.

**دوه يمه ماده:**

دغه حکم د کابينې له مصوبې او د نوموړې مقررې له متن سره يو ځای دې په رسمي جريده کې خپور شي.

**محمد اشرف غني**

**د افغانستان اسلامي جمهوريت رئيس**

## حکم رئيس جمهوری اسلامی افغانستان در مورد انفاذ مقررۀ تنظيم مساعدت حقوقی

شماره: (۱٦۱۸)

تاريخ: ۱۳۹۸/٦/۱٦

**مادۀ اول:**

مقررۀ تنظيم مساعدت حقوقی را که به اساس مصوبۀ شماره(۵) مؤرخ ۱۳۹۸/۴/۱۸کابينۀ جمهوری اسلامی افغانستان به داخل (۵) فصل و (۳۵) ماده تصويب گرديده است، منظور می دارم.

**مادۀ دوم:**

اين حکم همراه با مصوبۀ کابينۀ جمهوری اسلامی افغانستان و متن مقررۀ مذکور در جريدۀ رسمی نشر گردد.

**محمد اشرف غنی**

**رئيس جمهوری اسلامی افغانستان**

## دحقوقي مساعدت دتنظيم د مقررې د طرحې په هکله د افغانستان اسلامي جمهوريت د کابينې مصوبه

**گڼه: (۵)**

**نېټه: ۱۸/۴/ ۱۳۹۸**

د افغانستان اسلامي جمهوريت کابينې د حقوقي مساعدت د تنظيم د مقررې طرحه د ۱۳۹۸/۴/۱۸ نېټې په خپلــه غونډه کې د (۵) فصـــلونو او (۳۵) مادو په دننه کې تصويب کړه.

**محمد اشرف غني**

**د افغانستان اسلامي جمهوريت رئيس**

## مصوبهٔ کابینهٔ جمهوری اسلامی افغانستان در مورد طرح مقررهٔ تنظیم مساعدت حقوقی

**شماره: (۵)**

**تاریخ: ۱۳۹۸/۴/۱۸**

کابینهٔ جمهوری اسلامی افغانستان طرح مقررهٔ تنظیم مساعدت حقـــوقی را در جلسهٔ مؤرخ ۱۳۹۸/۴/۱۸خـــویش به داخل( ۵) فصل و (۳۵) ماده مورد تصویب قرار داد.

**محمد اشرف غنی**

**رئیس جمهوری اسلامی افغانستان**

## فهرست مندرجات

## مقررۀ تنظیم مساعدت حقوقی

### فصل اول

### احکام عمومی


| ماده | عنوان | صفحه |
|---|---|---|
| مادۀ اول: | مبنی | ٦ |
| مادۀ دوم: | اهداف | ٦ |
| مادۀ سوم: | اصطلاحات | ۷ |
| مادۀ چهارم: | مرجع تطبیق | ۱۱ |
| مادۀ پنجم: | درخواست مساعدت حقوقی | ۱۲ |
| | **فصل دوم** | |
| | **ارائه مساعدت حقوقی** | |
| مادۀ ششم: | مراجع ارائه کننده مساعدت حقوقی | ۱۲ |
| مادۀ هفتم: | حق اولویت ارائه مساعدت حقوقی | ۱۵ |
| مادۀ هشتم: | حقوق شخص مستحق مساعدت حقوقی | ۱٦ |
| مادۀ نهم: | مطالبه تعویض مساعد حقوقی | ۱۷ |
| مادۀ دهم: | وظایف و مکلفیت های مساعد حقوقی | ۱۷ |
| مادۀ یازدهم: | مطالبه اسناد و معلومات | ۱۹ |
| | **فصل سوم** | |
| | **کمیسیون عالی مساعدت های حقوقی** | |
| مادۀ دوازدهم: | ترکیب کمیسیون عالی مساعدت های حقوقی | ۲۰ |
| مادۀ سیزدهم: | وظایف و صلاحیت های کمیسیون | ۲۲ |
| مادۀ چهاردهم: | اعلان داوطلبی | ۲۴ |

مادۀ پانزدهم: شرایط برنده داوطلبی.......................۲۵
مادۀ شانزدهم: عقد قرار داد.............................۲۶
مادۀ هفدهم: لغو اعتبار نامه و فسخ قرارداد...............۲۷
مادۀ هجدهم: صلاحیت نظارت...............................۲۸
مادۀ نزدهم: مویده انضباطی..............................۲۹
مادۀ بیستم: دارالانشای کمیسیون.........................۳۰
مادۀ بیست ویکم: وظایف و صلاحیت های دارالانشای کمیسیون..........۳۱

## فصل چهارم

## وظایف و صلاحیت های ادارۀ مساعدت های حقوقی

مادۀ بیست و دوم: وظایف و صلاحیت ها.......................۳۵
مادۀ بیست و سوم: استخدام مساعد حقوقی در ادارۀ مساعدت های حقوقی...۳۷
مادۀ بیست و چهارم: امتیاز مادی..........................۳۸
مادۀ بیست و پنجم: توظیف مساعد حقوقی.....................۳۸
مادۀ بیست و ششم: رد فورمه بی بضاعتی مساعدت حقوقی............۴۰
مادۀ بیست و هفتم: تعویض یا رد مساعد حقوقی....................۴۱

## فصل پنجم

## احکام متفرقه

مادۀ بیست و هشتم: تمویل صندوق مساعدت حقوقی...................۴۳
مادۀ بیست و نهم: استفاده از منابع مربوط به صندوق مساعدت حقوقی......۴۴
مادۀ سی ام: ارائه مساعدت حقوقی در بدل هزینه کم یا پرداخت
حق الزحمه .......................................................۴۴
مادۀ سی و یکم: انجام مساعدت حقوقی توسط وکلای مدافع............۴۶

مادۀ سی و دوم: ارائه خدمات حقوقی توسط کلینیک های حقوقی و دستیاران حقوقی........................................۴۷
مادۀ سی و سوم: مکلفیت ارائه گزارش...................................۴۷
مادۀ سی و چهارم: وضع لوایح، طرزالعمل ها و رهنمود ها..................۴۸
مادۀ سی و پنجم: انفاذ.......................................................۴۸

## د حقوقي مساعدت د تنظيم مقرره

## لومړی فصل

## عمومي حکمونه

**مبني**

**لومړۍ ماده:**

دغه مقرره د مدافع وکیلانود قانون د درېیمې مادې د حکم له مخې، وضع شوې ده.

**موخې**

**دوه یمه ماده:**

ددې مقررې موخې عبارت دي له:

۱- بېوزله مظنون، تورن یا محکوم علیه او یا مجني علیه ته د باور وړ حقوقي مساعدت او خدمتونو د وړاندې کولو د زمینې برابرول.

۲- د حقوقي مساعدتونو د وړاندې کوونکو مراجعو د حقوقي مساعدینو د فعالیت سمون او د هغوی د اجراآتو ارزول.

۳- د حقوقي مساعدت په هکله

## مقررۀ تنظیم مساعدت حقوقی

## فصل اول

## احکام عمومی

**مبنی**

**مادۀ اول:**

این مقرره به تأسی از حکم مادۀ سوم قانون وکلای مدافع، وضع گردیده است.

**اهداف**

**مادۀ دوم:**

اهداف این مقرره عبارت اند از:

۱- فراهم نمودن زمینۀ ارائه مساعدت و خدمات حقوقی قابل اعتماد به مظنون، متهم یا محکوم علیه و یا مجنی علیه بی بضاعت.

۲- انسجام فعالیت مساعدین حقوقی مراجع ارائه کننده مساعدت های حقوقی و ارزیابی اجراآت آنها.

۳- فراهم نمودن زمینه آموزش و

د زده کړې او دمعلوماتو د پراختیا د زمینې برابرول.

۴- د حقوقي مساعدتونو د ادارې د اړوندو چارو تنظیمول.

۵- د حقوقي مساعدت د وړاندې کوونکو مراجعو د حقوقي مساعدت له وړاندې کولو څخه په څارنې پورې د اړوندو چارو تنظیمول.

**اصطلاحګانې**

**درېیمه ماده:**

په دې مقرره کې راتلونکې اصطلاحګانې لاندې مفاهیم افاده کوي:

۱- اعتبارلیک: هغه رسمي سند دی چې د حقوقي مساعدتونو د عالي کمېسیون له لوري، نا دولتي مؤسسو، د حقوقي مساعدت وړاندې کوونکي ته صادرېږي.

۲- بېوزله: هغه شخص دی چې د هغه عاید لږ تر لږه د نومورړي د معیشت بسنه نه کوي او د مدافع وکیل د استخدام توانمني ونلري.

۳- حقوقي خدمتونه: مستند کول،

گسترش معلومات در مورد مساعدت حقوقی.

۴- تنظیم امور مربوط به ادارهٔ مساعدت های حقوقی.

۵- تنظیم امور مربوط به نظارت از ارائه مساعدت حقوقی مراجع ارائه کننده مساعدت حقوقی.

**اصطلاحات**

**مادهٔ سوم:**

اصطلاحات آتی در این مقرره مفاهیم ذیل را افاده می نماید:

۱- اعتبار نامه: سند رسمی است که از طرف کمیسیون عالی مساعدت های حقوقی به مؤسسات غیر دولتی، ارائه کننده مساعدت حقوقی، صادر می گردد.

۲- بی بضاعت: شخصی است که عاید وی کفاف حد اقل معیشت او را ننموده و توانایی استخدام وکیل مدافع را نداشته باشد.

۳- خدمات حقوقی: شامل

عریضو لیکل او رسمي مکـــا تیبـــو او استعلامونو ته ځواب پـه کې شامل دي چې د حقوقي کلینیک یا حقوقي دستیار په واسطه صورت مومي.

۴- حقوقي دستیار: د دفاع وکالــت د جواز نه لرونکي شــخص دی چــې د حقوقي مساعد یا مدافع وکیل تر نظر لاندې، حقوقي خدمتونه وړاندې کوي.

۵- ډیټابیس: د حقوقي مســاعدتونو د ثبت اومدیریت واحد سیستم دی چې د حقوقي مساعدت وړاندې کــوونکې مراجع د حقوقي مساعدت له وړاندې کولــو څخـــه د څـــارنې د بهیـــر آسانتیا لپاره په ټولو قضیو کې له هغـــه څخه ګټه اخلي.

٦- د څارنې سیستم: هغه سیستم دی چې له ټاکل شوو میکانیزمونو څخه په ګټه اخیستنې سره د حقوقي مساعدت د وړاندې کولو له اجراآتو او اغېزمنتوب څخه د ارزونې او څارنې لپاره د حقوقي مساعدتونو د عالي کمېسیون له لوري، عملي کېږي.

۷- د بېوزلۍ ابتدائي فورمه: هغه جدول

مستند سازی، نوشتن عرایض و پاسخ به مکاتیب و استعلام های رسمی است که توسط دستیار حقوقی یا کلینیـــک حقوقی صورت می گیرد.

۴- دستیار حقوقی: شـــخص فاقـــد جواز وکالت دفاع بوده که تحت نظر مساعد حقوقی یـــا وکیـــل مـــدافع، خدمات حقوقی را ارائه می نماید.

۵- دیتابیس: سیستم واحد ثبـــت و مدیریت مســـاعدت هـــای حقـــوقی است کـــه مراجـــع ارائـــه کننـــده مساعدت حقـــوقی جهـــت تســـهیل روند نظـــارت از ارائـــه مســـاعدت حقوقی در تمام قضایا از آن اســـتفاده بعمل می آورد.

٦- سیستم نظارت: سیستمی اســـت که با اســـتفاده از میکـــانیزم هـــای تعیـــین شـــده جهـــت ارزیـــابی و نظـــارت از اجـــراآت و مؤثریـــت ارائه مســـاعدت حقـــوقی از طـــرف کمیسیون عالی مساعدت های حقوقی، عملی می گردد.

۷- فورمهٔ ابتدایی بی بضاعتی: جدولی

دی چې مظنون، تورن، محکوم علیه یا مجني علیه او یا د هغوی اقارب د هغې د ډکولو ترڅنګ، د حقوقي مساعدت غوښتنه کوي.

۸- د بېوزلۍ تکمیلي فورمه: هغه جدول دی چې د مسؤول شخص، حقوقي مساعد، مظنون، تورن، محکوم علیه یا مجني علیه او یا د هغوی د اقاربو په واسطه ډک کېږي او اړوند مؤظفین هغه تصدیقوي چې غوښتونکی شخص، د حقوقي مساعدت د ترلاسه کولو مستحق دی.

۹- حقوقي کلینیک: هغه مرکز دی چې د حقوقو او شرعیاتو د پوهنځیو محصلین د عملي حقوقي زده کړو له ترلاسه کولو وروسته، د یادو پوهنځیو د مدافع وکیلانو یا استادانو تر نظر لاندې حقوقي خدمتونه وړاندې کوي چې د دفاع وکالت د جواز لرونکي وي، د دفاع وکالت جواز لرونکې د حقوقي کلینیکونو مدافع وکیلان وړیا حقوقي مساعدت وړاندې کوي.

۱۰- حقوقي مساعدت: د عدلي تعقیب

است که مظنون، متهم، محکوم علیه یا مجنی علیه و یا اقارب آنها ضمن خانه پری آن، درخواست مساعدت حقوقی را ارائه می نماید.

۸- فورمهٔ تکمیلی بی بضاعتی: جدولی است که توسط شخص مسؤول، مساعد حقوقی، مظنون، متهم، محکوم علیه یا مجنی علیه و یا اقارب آنها خانه پری و مؤظفین مربوط آنرا تصدیق می کنند که شخص در خواست کننده، مستحق دریافت مساعدت حقوقی می باشد.

۹- کلینیک حقوقی: مرکزی است که در آن محصلان پوهنځی های حقوق و شرعیات بعد از دریافت آموزش های حقوقی عملی، خدمات حقوقی را تحت نظر وکیل مدافع یا استادان پوهنځی های مذکور که دارای جواز وکالت دفاع بوده انجام می‌دهند، وکلای مدافع کلینیک های حقوقی دارای جواز وکالت دفاع، مساعدت حقوقی رایگان را ارائه می نمایند.

۱۰- مساعدت حقوقی: دفاع از

په هر پړاو کې د ښوزله مظنون، تورن، محکوم علیه یا مجني علیه له حقوقو څخه دفاع او په کورنیو قضایاوو کې د ښوزله اطفالو او ښځو او مجني علیه له حقوقو څخه دفاع او هغوی ته د وړیا حقوقي خدمتونو وړاندې کول دي.

۱۱- حقوقي مساعد: هغه مدافع وکیل دی چې د دې مقررې د حکمونو په پام کې نیولو سره د عدلي تعقیب په هر پړاو کې د ښوزله مظنون، تورن، محکوم علیه یا مجني علیه له حقوقو څخه په جزایي قضایاوو کې او د ښوزله اطفالو او ښځو له حقوقو څخه په کورنیو قضیو کې دفاع کوي.

۱۲- اعتبارلیک لرونکې نا دولتي مؤسسه: د اقتصاد په وزارت کې ثبت شوی نا دولتي بنسټ دی چې حقوقي مساعدت او حقوقي خدمتونه، د دې مقررې له حکمونو سره سم د حقوقي مساعدت د صندوق له وجوهو څخه، وړاندې کوي.

۱۳- اعتبارلیک نه لرونکې نا دولتي مؤسسه: په اقتصاد وزارت کې

حقوق مظنون، متهم، محکوم علیه یا مجنی علیه بی بضاعت در هر مرحله از تعقیب عدلی و دفاع از حقوق اطفال و زنان بی بضاعت و مجنی علیه در قضایای خانواده گی و ارائه خدمات حقوقی رایگان به آنها می باشد.

۱۱- مساعد حقوقی: وکیل مدافعی است که با نظر داشت احکام این مقرره در قضایای جزایی از حقوق مظنون، متهم، محکوم علیه یا مجنی علیه بی بضاعت در هر مرحله از تعقیب عدلی و در قضایای خانواده گی از حقوق اطفال و زنان بی بضاعت دفاع می نماید.

۱۲- موسسهٔ غیر دولتی دارای اعتبار نامه: نهاد غیر دولتی ثبت شده در وزارت اقتصاد است که مساعدت حقوقی و خدمات حقوقی را، مطابق احکام این مقرره از وجوه صندوق مساعدت حقوقی، ارائه می نماید.

۱۳- موسسهٔ غیر دولتی فاقد اعتبار نامه: نهاد غیر دولتی

ثبت شوی نا دولتي بنسټ دی چې حقوقي مساعدت او حقوقي خدمتونه په خپل لاس کې له شته مالي سرچينو څخه، وړاندې کوي.

۱۴- حقوقي مشوره: د يوې قضيې د ماهيت او شکلياتو په هکله حقوقي نظريه ده چې د حقوقي مساعد په واسطه وړاندې کېږي.

۱۵- مدافع وکيل: هغه شخص دی چې د دفاع وکالت د جواز لرونکی وي او د هغه نوم د مدافع وکيلانو د انجمن د برحاله مدافع وکيلانو په نوملړ کې شامل او د مدافع وکيلانو د قانون او د دې مقررې له حکمونو سره سم، بېوزله اشخاصو ته حقوقي مساعدت وړاندې کوي.

**د تطبيق مرجع**

**څلورمه ماده:**

(۱) د عدليې وزارت د دې مقررې د حکمونو د تطبيق مرجع ده.

(۲) د حقوقي مساعدتونو اداره په دې مقرره کې د درج شوو موخو د تحقق

ثبت شده در وزارت اقتصاد است که مساعدت حقوقی و خدمات حقوقی را از منابع مالی دست داشته خود، ارائه می نماید.

۱۴- مشوره حقوقی: نظريه حقوقی در مورد ماهيت و شکليات يک قضيه است که توسط مساعد حقوقی ارائه می گردد.

۱۵- وکيل مدافع: شخصی است که دارای جواز وکالت دفاع بوده و اسم وی در فهرست وکلای مدافع برحال انجمن وکلای مدافع شامل و مطابق احکام قانون وکلای مدافع و اين مقرره به اشخاص بی بضاعت، مساعدت حقوقی را ارائه می نمايد.

**مرجع تطبيق**

**مادۀ چهارم:**

(۱) وزارت عدليه مرجع تطبيق احکام اين مقرره، می باشد.

(۲) ادارۀ مساعدت های حقوقی به منظور تحقق اهداف مندرج اين

په منظور د عدليې وزارت په چوکاټ کې فعاليت کوي.

**د حقوقي مساعدت غوښتنليک**

**پنځمه ماده:**

(۱) بېوزله شخص کولی شي، د عدلي تعقيب په ټولو پړاوونو کې له نيولو سره سم يا د تور په انتساب، د حقوقي مساعدت له وړاندې کوونکو مراجعو څخه د حقوقي مساعدت، غوښتنه وکړي.

(۲) د بېوزلۍ له ابتدايي او تکميلي فورمې سره سم، د حقوقي مساعدت غوښتنه صورت مومي.

## دوه يم فصل

## د حقوقي مساعدت وړاندې کول

**د حقوقي مساعدت وړاندې کوونکې مراجع**

**شپږمه ماده:**

(۱) حقوقي مساعدت د لاندې مراجعو له لارې د حقوقي مساعدتونو د عالي

مقرره در چوکات وزارت عدليه فعاليت می نمايد.

**درخواست مساعدت حقوقی**

**مادهٔ پنجم:**

(۱) شخص بی بضاعت می تواند، به مجرد گرفتاری يا انتساب اتهام در تمام مراحل تعقيب عدلی، مساعدت حقوقی را از مراجع ارائه کننده مساعدت حقوقی، درخواست نمايد.

(۲) در خواست مساعدت حقوقی مطابق فورمه ابتدائی و تکميلی بی بضاعتی، صورت می گيرد.

## فصل دوم

## ارائه مساعدت حقوقی

**مراجع ارائه کننده مساعدت حقوقی**

**مادهٔ ششم:**

(۱) مساعدت حقوقی از طريق مراجع ذيل تحت نظر کميسيون عالی

کمېسيون ترنظر لاندې، وړاندې کېږي:

۱- د حقوقي مساعدتونو اداره.

۲- د مدافع وکيلانو د انجمن مدافع وکيلان.

۳- نـادولتي اعتبارليـک لرونکـې مؤسسې او حقوقي شرکتونه.

۴- اعتبارليک نه لرونکې نا دولتـي مؤسسې.

۵- د حقـوقي کلينيکونـو مـدافع وکيلان.

(۲) نادولتي مؤسسې د اعتبارليک له ترلاسه کولـو وروسـته د حقـوقي مساعدتونو د صندوق له وجوهو څخه په ګټې اخيسـتنې سـره او حقـوقي شرکتونه دکمېسيون په دارالانشاء کې له ثبت څخه وروسته کولی شي، حقوقي مساعدت د حقوقي مساعدتونو له عالي کمېسيون سره د داوطلبۍ او د قرارداد د عقد پربنسـټ، ددې مقـررې لـه حکمونو سره سم، وړاندې کړي.

(۳) اعتبارليک نه لرونکې نا دولتـي مؤسسې کولی شي، حقوقي مساعدت په لاس کې له شته وو مالي سـرچينو

مساعدت های حقوقی، ارائه می گردد:

۱- ادارۀ مساعدت های حقوقی.

۲- وکلای مدافع انجمـن وکـلای مدافع.

۳- مؤسسات غیـر دولتـی دارای اعتبار نامه و شرکت های حقوقی.

۴- مؤسسات غیـر دولتـی فاقـد اعتبار نامه.

۵- وکلای مـدافع کلينيـک هـای حقوقی.

(۲) مؤسسـات غيـر دولتـی بعد از دريافت اعتبار نامه با استفاده از وجوه صندوق مساعدت های حقوقی و شرکت های حقوقی بعد از ثبـت در دارالانشای کميسيون مـی تواننـد، مساعدت حقوقی را به اساس داوطلبی و عقد قرار داد با کميسـيون عـالی مسـاعدت هـای حقـوقی، مطـابق احکـام ايـن مقـرره، ارائـه نمايند.

(۳) مؤسسـات غيردولتـی فاقـد اعتبار نامه مـی تواننـد، مسـاعدت حقـوقی را از منـابع مـالی

ځخه د مدافع وکیلانو قانون او د دې مقررې له حکمونو سره سم، وړاندې کړي.

(۴) له ډیټابیس څخه ګټه اخیستنه او د دې مادې په (۱) فقره کې د درج شوو مراجعو له فعالیت څخه څارنه د اړوندې کړنلارې له مخې صورت مومي.

(۵) د دې مادې په (۱) فقره کې درج شوې مراجع مکلفې دي، د خپلو اجراآتو رپوټ ددې مقررې له حکمونو سره سم، د دارالانشاء له لارې د حقوقي مساعدتونو عالي کمېسیون ته وړاندې کړي.

(٦) اعتبارلیک په هغه صورت کې د کمېسیون له لوري نادولتي مؤسسو ته ورکول کېږي چې د کمېسیون په دارالانشاء کې ثبت شوي وي.

(۷) حقوقي شرکتونه په هغه صورت کې په داوطلبۍ کې ګډون کولی شي چې د کمېسیون په دارالانشاء کې ثبت او د کمېسیون له لوری تأیید شوي وي.

دست داشتهٔ خویش مطابق احکام قانون وکلای مدافع و این مقرره، ارائه نمایند.

(۴) استفاده از دیتابیس و نظارت از فعالیت مراجع مندرج فقرهٔ (۱) این ماده طبق طرزالعمل مربوط صورت می گیرد.

(۵) مراجع مندرج فقرهٔ (۱) این ماده مکلف اند، گزارش اجراآت خود را طبق احکام این مقرره از طریق دارالانشاء به کمیسیون عالی مساعدت های حقوقی ارائه نمایند.

(٦) اعتبار نامه در صورتی از طرف کمیسیون به مؤسسات غیر دولتی اعطاء می گردد که در دارالانشای کمیسیون ثبت گردیده باشند.

(۷) شرکت های حقوقی در صورتی در داوطلبی شرکت نموده می توانند که در دارالانشای کمیسیون ثبت و از طرف کمیسیون تأیید گردیده باشند.

(۸) د اعتبارلیک په صادرولو او په ثبت پورې اړوندې چارې، د هغې کړنلارې له مخې تنظیمېږي، چې د کمېسیون له لوري تصویبېږي.

## د حقوقي مساعدت د وړاندې کولو د لومړیتوب حق

اوومه ماده:

(۱) ددې مقررې په شپږمه ماده کې درج شوې مراجع مکلفې دي، د حقوقي مساعدتونو د وړاندې کولو او د حقوقي مساعد د ټاکلو په وخت کې د لاندې اشخاصو لپاره د لومړیتوب حق رعایت کړي:

۱- د استحقاق له تثبیت پرته د کړونې یا جنسي تیري د جرمونو قرباني.

۲- په جزایي قضیو کې بېوزله طفل، ښځه، مجني علیه، معلولیت لرونکي اشخاص، بېرته راستنېدونکي او کورني بېځایه شوي.

۳- دبېوزله طفل او ښځې لپاره په کورنیو قضیو کې.

(۲) د حقوقي مساعدینو په تنظیم او

(۸) امور مربوط به صدور اعتبار نامه و ثبت، طبق طرزالعمل که از طرف کمیسیون تصویب می شود، تنظیم می گردد.

## حق اولویت ارائه مساعدت حقوقی

مادۀ هفتم:

(۱) مراجع مندرج مادۀ ششم این مقرره مکلف اند، حین ارائه مساعدت های حقوقی و تعیین مساعد حقوقی برای اشخاص ذیل حق اولویت را رعایت نمایند:

۱- قربانی جرایم شکنجه یا تجاوز جنسی بدون تثبیت استحقاق.

۲- طفل، زن، مجنی علیه، اشخاص دارای معلولیت، عودت کننده و بیجا شده داخلی بی بضاعت در قضایای جزائی.

۳- برای طفل و زن بی بضاعت در قضایای خانواده گی.

(۲) امور مربوط به تنظیم و

لارښوونې او د حقوقي مساعدت لړمړیتوب ورکولو کې د توازن په ساتلو پورې اړوندې چارې، د هغه لارښود په واسطه تنظیمیږي چې د حقوقي مساعدتونو د عالي کمېسیون له لوري تصویبیږي.

## د حقوقي مساعدت د مستحق شخص حقوق

اتمه ماده:

د حقوقي مساعدت د ترلاسه کولو مستحق شخص، د لاندې حقوقو لرونکی دی:

۱- له هر ډول توپیر پرته حقوقي مساعدت ته برابر لاسرسی.

۲- د عدلي تعقیب په هر پړاو کې له حقوقي سملاسي او اغېزمن مساعدت څخه برخمن کېدل.

۳- د انساني کرامت او بشري حقوقو رعایت.

۴- د حقوقي مساعدت او حقوقي خدمتونو د وړاندې کولو له څرنګوالي څخه شکایت.

رهنمایی مساعدین حقوقی و حفظ توازن در اولویت بندی مساعدت حقوقی، توسط رهنمودی تنظیم می گردد که از طرف کمیسیون عالی مساعدت های حقوقی تصویب می شود.

## حقوق شخص مستحق مساعدت حقوقی

مادهٔ هشتم:

شخص مستحق دریافت مساعدت حقوقی، دارای حقوق ذیل می باشد:

۱- دسترسی مساویانه به مساعدت حقوقی بدون هر نوع تبعیض.

۲- برخورداری از مساعدت فوری و مؤثر حقوقی در هر مرحله از تعقیب عدلی.

۳- رعایت کرامت انسانی و حقوق بشری.

۴- شکایت از چگونگی ارائه مساعدت حقوقی و خدمات حقوقی.

۵- د حقوقي مساعد د لرلو، ردولو یا بدلولو حق.

٦- د مدافع وکیلانو په قانون او په دې مقرره کې درج شوي نور حقوق.

**د حقوقي مساعد د بدلون غوښتنه**

**نهمه ماده:**

مؤکل کولی شي د هغه د قضیې په تعقیبولو کې د حقوقي مساعد د بې پروایۍ او لټۍ په صورت کې، د هغه بدلون د حقوقي مساعدت له وړاندې کوونکو مراجعو څخه، وغواړي.

**د حقوقي مساعد دندې او مکلفیتونه**

**لسمه ماده:**

(۱) حقوقي مساعد د لاندې دندو لرونکی دی:

۱- د بېوزله مظنون، تورن یا محکوم علیه او مجني علیه لپاره د حقوقي مساعدت وړاندې کول او په کورنیو قضیو کې د بېوزله اطفالو او ښځو له حقوقو څخه دفاع.

۲- بېوزله مظنون، تورن یا

۵- حق داشتن، رد یا تعویض مساعد حقوقی.

٦- سایر حقوق مندرج قانون وکلای مدافع و این مقرره.

**مطالبه تعویض مساعد حقوقی**

**مادۀ نهم:**

مؤکل می تواند در صورت سهل انگاری و غفلت مساعد حقوقی در پیگیری قضیه وی، تعویض آن را از مرجع ارائه کننده مساعدت حقوقی، مطالبه نماید.

**وظایف و مکلفیت های مساعد حقوقی**

**مادۀ دهم:**

(۱) مساعد حقوقی دارای وظایف ذیل می باشد:

۱- ارائه مساعدت حقوقی برای مظنون، متهم یا محکوم علیه بی بضاعت و مجنی علیه و دفاع از حقوق اطفال و زنان بی بضاعت در قضایای خانواده‌گی.

۲- ارائه مشوره حقوقی به مظنون،

محکوم علیه، اطفالو او ښځو تـه د حقوقي مشورې ورکولو وړاندې کول.

۳- د کشف، څېړنې او محاکمې پـه ټولو پړاوونو کې ګډون او له مؤکـل څخه په نیابت د ځواب وړاندې کول.

۴- د کشف، څېړنـې او د مؤکـل د محاکمې او د هغه د پایلو له بهیـر څخه د اطلاعاتو لټول او ترلاسه کول.

۵- دعدلي تعقیب په ټولو پړاوونوکې له اړوندو مراجعو څخه د مؤکل اړوند دجزائي دعوي د پاڼو غوښتل.

۶- تر څارنې، توقیف یا حبس لاندې مؤکل سره کتنه، مفاهمه، مراسلات او مخابرات په هغه چاپېریال کې چې پـه هغه کې د موًکل اسرار وساتل شي.

۷- له رېښتینولۍ او امانت دارۍ سره د حقوقي مساعدت وړاندې کـول او د مؤکل شخصیت ته درناوی.

۸- په قضایي غونډو کې ګډون او په عدلي او قضایي مراجعو کـې د نظـم رعایتول.

۹- له هر ډول جنسیتي، ژبني، قومي، سمتي، منطقوي، نژادي، ګونـدي او

متهم یا محکوم علیه، زنان و اطـفال بی بضاعت.

۳- اشتراک در تمام مراحل کشف، تحقیق و محاکمه و ارائه جواب بـه نیابت از موکل.

۴- جستجو و کسب اطلاعـات از جریان کشف، تحقیق و محاکمۀ مؤکل و نتایج آن.

۵- مطالبۀ اوراق دعـــوای جزائی مربوط به مؤکـل در تمـام مراحـل تعقیب عدلی از مراجع ذیربط.

۶- ملاقات، مفاهمـه، مراسـلات و مخابرات با مؤکل تحـت نظـارت، توقیف یا حبس در محیطی که در آن اسرار مؤکل حفظ شده بتواند.

۷- ارائـه مسـاعدت حقـوقی با صداقت و امانت داری و احترام به شخصیت مؤکل.

۸- اشتراک در جلسات قضـایی و رعایـت نظـم در مراجـع عـدلی و قضایی.

۹- اجتناب از هـر نـوع تبعـیض جنسیتی، لسـانی، قـومی، سـمتی،

مذهبي توپیر څخه ډډه کول.

۱۰- د مؤکل مقابل خوا ته له هر ډول مساعدت څخه ډډه کول.

۱۱- له هر ډول هغو اعمالو څخه ډډه کول چې بې موجبه د تحقیق او محاکمې د بهیر د ځنډېدو لامل شي.

۱۲- د لیکلي سند په بدل کې د مؤکل د سندونو اخیستل، ساتل او مؤکل ته د هغو استرداد.

۱۳- د دې مقررې له حکمونو سره سم په ډېټابېس کې د محول شوو قضیو د معلوماتو ثبتول.

۱۴- اړونده مرجع ته د ورځنیو کاري اجراآتو د رپوټ وړاندې کول.

۱۵- د دې مقررې له حکمونو سره سم، د نورو دندو ترسره کول.

(۲) حقوقي مساعد په خپلو مسلکي اجراآتو کې خپلواک دی.

## د سندونو او معلوماتو غوښتل

**یوولسمه ماده:**

حقوقي مساعد مکلف دی، له خپل مؤکل او اړوندو مراجعو څخه په قضیې

منطقوی، نژادی، حزبی و مذهبی.

۱۰- خود داری از هر نوع مساعدت به جانب مقابل مؤکل.

۱۱ - خود داری از هر نوع اعمالی که سبب معطل شدن بی موجب جریان تحقیق و محاکمه گردد.

۱۲- اخذ اسناد مؤکل، حفظ و استرداد آن به مؤکل در بدل سند کتبی.

۱۳- ثبت معلومات قضایای محول شده در دیتابیس مطابق احکام این مقرره.

۱۴- ارائه گزارش اجراآت کاری روزانه به مرجع مربوط.

۱۵- انجام سایر وظایف، مطابق احکام این مقرره.

(۲) مساعد حقوقی در اجراآت مسلکی خود مستقل می باشد.

## مطالبه اسناد و معلومات

**مادۀ یازدهم:**

مساعد حقوقی مکلف است، معلومات و اسناد مربوط به قضیه را از مؤکل

پورې اړوند معلومات او سندونه، وغواړي. د يادو مراجعو له لوري د سندونو د نه وړاندې کولو په صورت کې، حقوقي مساعد مکلف دی، موضوع د حقوقي مساعدتونو د عالي کمېسيون دارالانشاء ته خبر ورکړي.

## درېيم فصل

## د حقوقي مساعدتونو عالي کمېسيون

### د حقوقي مساعدتونو د عالي کمېسيون ترکيب

**دوولسمه ماده:**

(۱) د حقوقي مساعدت د وړاندې کوونکو مراجعو له فعاليت څخه د رهبرۍ، همغږۍ او څارنې په منظور د حقوقي مساعدتونو عالي کمېسيون چې په دې مقرره کې د کمېسيون په نامه يادېږي، په لاندې ترکيب سره رامنځته کېږي:

۱- د عدليې وزير د رئيس په توګه.

۲- د قضائيه قوې د ادارې لوی آمر د

خود و مراجع مربوط، مطالبه نماید. در صورت عدم ارائه اسناد از طرف مراجع مذکور، مساعد حقوقی مکلف است، موضوع را به دارالانشای کمیسیون عالی مساعدت های حقوقی، اطلاع دهد.

## فصل سوم

## کمیسیون عالی مساعدت های حقوقی

### ترکیب کمیسیون عالی مساعدت های حقوقی

**مادهٔ دوازدهم:**

(۱) به منظور رهبری، هماهنگی و نظارت از فعالیت مراجع ارائه کننده مساعدت حقوقی، کمیسیون عالی مساعدت های حقوقی که در این مقرره به نام کمیسیون یاد می شود، به ترکیب ذیل ایجاد می گردد:

۱- وزیر عدلیه به حیث رئیس.

۲- آمر عمومی اداری قوهٔ قضائیه به

غړي په توګه.
۳- د لوی ښارنوالۍ مرستیال د غړي په توګه.
۴- د افغانستان د بشر د حقوقو د خپلواک کمېسیون غړی د غړي په توګه.
۵- د مالیې وزارت معین د غړي په توګه.
٦- د کورنیو چارو وزارت امنیتي معین د غړي په توګه.
۷- د لوړو زده کړو وزارت علمي معین د غړي په توګه.
۸- د ښځو چارو وزارت معین د غړي په توګه.
۹- د سیمه ییزو ارګانونو د ادارې مرستیال د غړي په توګه.
۱۰- د حقوقي مساعدتونو د ادارې لوی رئیس د غړي په توګه.
۱۱- د قانون جوړونې او علمي ـ حقوقي څېړنو د چارو د انستیتوت لوی رئیس د غړي په توګه.
۱۲- د ملي امنیت د لوی ریاست مرستیال د غړي په توګه.

حیث عضو.
۳- معاون لوی څارنوالی به حیث عضو.
۴- عضو کمیسیون مستقل حقوق بشر افغانستان به حیث عضو.
۵- معین مالی وزارت مالیه به حیث عضو.
٦- معین امنیتی وزارت امور داخله به حیث عضو.
۷- معین علمی وزارت تحصیلات عالی به حیث عضو.
۸- معین وزارت امور زنان به حیث عضو.
۹- معاون ادارهٔ ارگانهای محلی به حیث عضو.
۱۰- رئیس عمومی اداره مساعدت های حقوقی به حیث عضو.
۱۱- رئیس عمومی انستیتوت امور قانونگذاری و تحقیقات علمی ـ حقوقی به حیث عضو.
۱۲- معاون ریاست عمومی امنیت ملی به حیث عضو.

۱۳- د مدافع وکیلانو انجمن رئیس د غړي په توګه.

۱۴- د حقوقي مساعدتونو د وړاندې کوونکو مراجعو له نا دولتي مؤسسو څخه څلور غړي (دوه نارینه او دوه ښځینه) د غړو په توګه.

۱۵- دکمېسیون د دارالانشاء آمر د منشي په توګه.

(۲) د دې مادې د (۱) فقرې په ۱۴ جزء کې درج شوو نا دولتي مؤسسو د غړو د ټاکنې ډول، د کمېسیون د فعالیت او د غونډو دجوړولو ډول له هغې کړنلارې سره سم، تنظیمېږي چې د کمېسیون د دارالانشاء له لوري ترتیب او د کمېسیون له لوري تصویبېږي.

## د کمېسیون دندې او واکونه

دیارلسمه ماده:

کمېسیون د لاندې دندو او واکونو لرونکی دی:

۱- د استراتیژۍ، پلان، کړنلارو،

۱۳- رئیس انجمن وکلای مدافع به حیث عضو.

۱۴- چهار عضو از مؤسسات غیر دولتی ارائه کننده مساعدت های حقوقی (دو مرد و دو زن) به حیث اعضاء.

۱۵- آمر دارالانشای کمیسیون به حیث منشی.

(۲) طرز تعیین اعضای مؤسسات غیر دولتی، مندرج جزء ۱۴ فقرهٔ (۱) این ماده، نحوهٔ فعالیت و تدویر جلسات کمیسیون، طبق طرزالعملی تنظیم می شود که از طرف دارالانشای کمیسیون ترتیب و از طرف کمیسیون تصویب می گردد.

## وظایف و صلاحیت های کمیسیون

مادهٔ سیزدهم:

کمیسیون دارای وظایف و صلاحیت های ذیل می باشد:

۱- تصویب استراتیژی، پلان،

لاربښـــودونو او د بېـــوزلي د فورمـــو تصویب.

۲- د دې مقـــــررې د تعـــــــديل د طرحې د وړانديز تأييد.

۳- د کمېسیون د دارالانشاء په واسطه د څـــارنې د رپـــوټ پربنســـټ نا دولتي مؤسسو ته د اعتبـــار ليـــک ورکول او د هغه لغو.

۴- په دې مقرره کــې د درج شـــوو حکمونو سره سم، نا دولتي مؤسسو او حقوقي شرکتونو سره د قرارداد عقد او د هغوی فسخ.

۵- د حقوقي مســاعدت د صــندوق رامنځته کول او د هغه مديريت.

٦- د حقوقي مساعدت صندوق تـــه د مالي مرستو جلب.

۷- له بررسۍ څخه وروسته د حقوقي مساعدينو د شکايتونو پـــه هکلـــه د کمېسیون د دارالانشاء له لوري تصميم نيول.

۸- د حقوقي مســاعدت د وړانــدې کوونکو مراجعو له اجراآتــو څخـــه د رپوټ اورېدنه.

طرزالعمـــل هـــا، رهنمـــود هـــا و فورمه های بی بضاعتی.

۲-تأیید پیشنهاد طرح تعـــدیل ایـــن مقرره.

۳- اعطای اعتبار نامه به مؤسســـات غیر دولتـــی و لغـــو آن بـــه اســـاس گزارش نظارتی توســـط دارالانشـــای کمیسیون.

۴- عقد قـــرارداد بـــا مؤسســـات غیر دولتی و شرکت های حقـــوقی و فسخ آن مطابق احکام منـــدرج ایـــن مقرره.

۵- ایجاد صندوق مساعدت حقوقی و مدیریت آن.

٦- جلب کمک های مالی به صندوق مساعدت حقوقی.

۷- اتخـــاذ تصـــمیم در مـــورد شـــکایات مســـاعدین حقـــوقی بعد از بررسی ازطـــرف دارالانشـــای کمیسیون.

۸- اســـتماع گـــزارش از اجـــراآت مراجـــع ارائـــه کننـــدۀ مســـاعدت حقوقی.

۹- د عدلي تعقیب په بېلا بېلو پړاوونو کې د حقوقي مساعدت د وړاندې کوونکو مراجعو له اجراآتو څخه د څارنې په منظور د څارنیزې کړنلارې وضع.

۱۰- بېوزلو مظنونینو، تورنو او محکومینو ته په وخت او اغېزمن حقوقي مساعدت له وړاندې کولو څخه د ډاډ تر لاسه کول.

۱۱- د کمېسیون د دارالانشاء او د حقوقي مساعدت د وړاندې کوونکو مراجعو د اجراآتو او فعالیتونو له تر سره کولوڅخه د قانون او د دې مقررې له حکمونو سره په مطابقت کې د ډاډ تر لاسه کول.

## د داوطلبۍ اعلان

**څوارلسمه ماده:**

(۱) په ټول هېواد کې د بېوزله مظنون، تورن یا محکوم علیه او یا بېوزله مجنی علیه او طفل او ښځې لپاره د اغېزمن او ګټور حقوقي مساعدت او حقوقی خدمتونو د وړاندې کولو

۹- وضع طرزالعمل نظارتی به منظور نظارت از اجراآت مراجع ارائه کننده مساعدت حقوقی در مراحل مختلف تعقیب عدلی.

۱۰- حصول اطمینان از ارائه به موقع و مؤثر مساعدت حقوقی به مظنونین، متهمین و محکومین بی بضاعت.

۱۱- حصول اطمینان از انجام اجراآت و فعالیت‌های دارالانشای کمیسیون و مراجع ارائه کننده مساعدت حقوقی در مطابقت با احکام قانون و این مقرره.

## اعلان داوطلبی

**مادهٔ چهاردهم:**

(۱) به منظور تضمین کیفیت ارائه مساعدت حقوقی و خدمات حقوقی مؤثر و مفید برای مظنون، متهم یا محکوم علیه بی بضاعت و یا مجنی علیه و طفل و زن بی بضاعت

د کيفيت د تضمين په منظور د کمېسيون دارالانشاء د حقوقي مساعدت وړاندې کول د قانون له حکمونو سره سم، اعلان او د نا دولتي مؤسسو او حقوقي شرکتونو ته بلنه ورکوي تر څو په داوطلبۍ کې ګډون وکړي.

(۲) د کمېسيون دارالانشاء، د نا دولتي مؤسسو او حقوقي شرکتونو د وړانديزونو د تر لاسه کولو وروسته تر بررسۍ لاندې نيسي او د تصميم نيونې په غرض يې کمېسيون ته وړاندې کوي.

(۳)کمېسيون، د دې مادې په (۲) فقره کې درج شوي وړانديزونه ارزوي او نا دولتي مؤسسې او حقوقي شرکتونه په هغه صورت کې د داوطلبۍ ګټونکي اعلانوي چې په شرط پاڼه کې يې د درج شوو شرطونو ژمنه کړې وي.

## د داوطلبۍ د ګټلو شرطونه

### پنځلسمه ماده:

د داوطلبۍ ګټونکي نا دولتي مؤسسې او حقوقي شرکتونه په شرط پاڼه کې

در سرتاسر کشور، دارالانشای کمیسیون ارائه مساعدت حقوقی را مطابق احکام قانون اعلان و از مؤسسات غیر دولتی و شرکت های حقوقی دعوت می نماید تا در داوطلبی شرکت نمایند.

(۲) دارالانشای کمیسیون، پیشنهادات مؤسسات غیر دولتی و شرکت های حقوقی را بعد از دریافت مورد بررسی قرارداده و غرض اتخاذ تصمیم به کمیسیون ارائه می نماید.

(۳) کمیسیون پیشنهادات مندرج فقرۀ(۲) این ماده را ارزیابی نموده و مؤسسات غیر دولتی وشرکت های حقوقی را در صورتی برنده داوطلبی اعلان می نماید که شرایط مندرج شرطنامه را تعهد نموده باشند.

## شرایط برنده داوطلبی

### مادۀ پانزدهم:

مؤسسات غیر دولتی و شرکت های حقوقی برنده دواطلبی

د درج شوو شرطونو د ژمنې سربېره د لاندې شرطونو لرونکې هم وي:

۱- د تقنيني سندونو سره سم د فعاليت حق ولري.

۲- د څارنيز سيستم رامنځته کول، دحقوقي مساعدت د دوسيو مديريت، د حقوقي مساعدت له ډيټابيس څخه ګټه اخيستنه او د حقوقي مساعدتونو د ادارې سيستم ته د ورته نورو شرطونو ژمنه وکړي.

## د قرارداد عقد

### شپاړسمه ماده:

(۱) کمېسيون، د داوطلبۍ ګټونکي د نا دولتي مؤسسو او حقوقي شرکتونو له تشخيص څخه وروسته د حقوقي مساعدت د وړاندې کولو قرارداد له هغو سره عقد کوي.

(۲) د دې مادې په (۱) فقره کې درج شوی قرارداد، هغه وخت عقدکېدای شي چې د قانون او د دې مقررې له حکمونو سره سم، داوطلبي صورت موندلی وي.

بر علاوه تعهد شرايط مندرج شرطنامه دارای شرايط ذيل نيز باشند:

۱- مطابق به اسناد تقنينی حق فعاليت را داشته باشند.

۲- ايجاد سيستم نظارتی و مديريت دوسيه های مساعدت حقوقی، استفاده از ديتابيس مساعدت حقوقی و ساير شرايط مشابه به سيستم ادارهٔ مساعدت های حقوقی را تعهد نمايند.

## عقد قرار داد

### مادهٔ شانزدهم:

(۱) کميسيون بعد از تشخيص مؤسسات غير دولتی و شرکت های حقوقی برنده داوطلبی، قرار داد ارائه مساعدت حقوقی را با آنها عقد می نمايد.

(۲) قرار داد مندرج فقرهٔ (۱) اين ماده، زمانی عقد شده می‌تواند که مطابق احکام قانون و اين مقرره داوطلبی صورت گرفته باشد.

(۳) د قراردادي په تړاو شرطونه، د لورو حقوق او وجيبې قرارداد پورې اړوند فورم کې درجېږي.

(۴) ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوی قرارداد د هغې کړنلارې سره سم عقد کېږي چې د کمېسيون له لوري تصويبېږي.

## د اعتبار ليک لغو او د قرارداد فسخ

**اوولسمه ماده:**

اعتبار ليک او قرارداد په لاندې حالتونو کې د کمېسيون له لوري لغو کېږي:

۱- د دې مقررې په پنځلسمه ماده کې له درج شوو شرطونو څخه سرغړونه.

